BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# READ

– د ثانوي لوست لپاره همکاري

# READ

– د ثانوي لوست لپاره همکاري

## د یوې مور/پلار په توګه تاسې باید یو مهم رول ولوبوئ

ستاسې د ماشوم/ماشومې د لوست ټول مهارتونو د ښوونځي د ورځو په جریان کې پرمختګ کوي. نو ځکه ستاسې د ماشوم/ماشومې لپاره دا مهم دي چې هره ورځ ولولي، چې د هغه یا هغې د لوست پرمختګ ونه دریږي. ستاسې ماشوم که هر څه لولي، د یوې مور/پلار په توګه تاس ې بیا هم په لوستلو کې د خپل ماشوم/ماشومې ملاتړ کولی شئ چې ښه لوستونکي جوړ شي. تاسې د خپل ماشوم/ماشومې په لوست کې علاقه مندي ډرلو له لارې د هغه هغې ملاتړ کولی شئ او په کور کې د لوست مثبت معمول جوړولی شئ. د خپل ماشوم/ماشومې سره د ورځني لوست لپاره وخت او ځای ډرلو کې مرسته وکړئ. د بېلګې په توګه، تاسې یو قرارداد ترسره کولی شئ چې هره ورځ په یو ټاکلي وخت ولولئ. د خپل ماشوم سره د متن په اړه خبرې کوئ

## د خپل ماشوم سره د متن په اړه خبرې کوئ

په ثانوي کچه، ستاسې ماشوم/ماشومه په خپل لوست کې زیات باوري کیږي او روانیږي. ستاسې ماشوم/ماشومه زیات لوستلو ته اړتیا لري، او باید د اوږود وخت لپاره بېلا بېل ډول متن ولولي. له دې سره اضافي، ستاسې ماشوم/ماشومه باید د متن د لوست او د دې د معنا په اړه لا زیات پوهاوی ترلاسه کړي. کله چې ستاسې ماشوم/ماشومه د لوستلو څخه مخکې، لوستلو په جریان کې یا وروسته د متن په اړه پوښتنې کوي او هغې ته ځوابونه وايي، هغه یا هغې ته ووایئ چې دغه د هغه مواد او پوهې سره وصل کړي چې هغه یا هغې لوستي دي. کله چې ستاسې ماشوم/ماشومه لولي، هغه د 'څرنګه لوست وکړو' کتاب نښې په اړه پوښتنې کارولی شي. تاسې خپل ماشوم/ماشومې ته

ډاډ ورکولی شئ چې د متن په اړه پوښتنې وکړي. د 'څرنګه تاسې سو هم د خپل ماشوم سره لوستلی شئ' په پاڼه، والدېن تحریک موندلی شي چې څرنګه د خپل ماشوم/ماشومې سره د لوستلو څخه مخکې، د لوستلو په جریان کې او وروسته خبرې کولی شي. که چیرې تاسې د ډنمارکۍ څخه پرته کومه بله ژبه وایئ، تاسې دغه ژبه هم کارولی شئ کله چې د متن په اړه خبرې کوئ. د تورو او نېمګړو جملو په اړه په ډنمارک ي او خپله مورنۍ ژبه کې په آزادۍ سره خبرې کوئ.





## که چیرې ستاسې ماشوم/ماشومه پہ لوستلو کې مشکل لري

ستاسې ماشوم/ماشومه باید زیاتره توري له خپله ځانه ولولي. که نه نو، دغه متن زیات مشکل دی. که تاسې ته معلوم شي چې متن زیات مشکل دی، تاسې دغه پہ لوړ غږ خپل ماشوم ته لوستلی شئ. ستاسې ماشوم/ماشومه آډیو کتابونه هم اورېدلی شي. که چیرې ستاسې ماشوم/ماشومه پہ لوستلو، لیکلو او توري جوړولو کې مشکل لري، یا یې د هغې کولو خواهش له لاسه ورکړی وي، تاسې باید د خپل ماشوم/ماشومې د ښوونکي سره ملاقات وکړئ.
د آرهس ښاروالۍ (Municipality of Aarhus) د لوست د مشاورینو له لارې بې نومه مشاورت هم وړاندې کوي. ټیلیفون (+45) 8940 3777

## د خپل ماشوم سره لیکل وکړئ

د لیکلو له لارې، ستاسې ماشوم/ماشومه به پہ لیکلو کې ښه شي. همدارنګه، د لیکلو له لارې، ستاسې ماشوم/ماشومه به لوستلو کې هم ښه شي. خپل ماشوم/ماشومې ته ډاډ ورکړئ چې پہ بېلا بېلو قرینو او ډولونو لیکل وکړي، او د خپل ماشوم/ماشومې سره مرسته وکړئ چې پہ کور کې د لیکلو لپاره وخت ولري. یوځای متنونه ولټوئ

## د خپل ماشوم/ماشومې سره پہ لوړ غږ لولئ

اګرچې ستاسې ماشوم/ماشومه یوازې لوستلی شي، هغوی باید اکثر تاسې ته پہ لوړ غږ ولولي. دا به ماشوم/ماشومه وتوانوي خپل لوست ته غوږ ونیسي او د لوست پہ تېرروتنو او مغالطو پوه شي. که چیرې تاسې او ستاسې ماشوم/ماشومه وار پہ وار پہ لوړ غږ لوست کوئ، دا د ماشوم/ماشومې مرسته کولی شي پہ متن کې روان/روانه شي او د هغه څه معنی زده کړي چې هغه یا هغې لوستلي وي. خپل ماشوم/ماشومې ته پہ آزادۍ سره پہ لوړ غږ لوست کولو ته دوام ورکړئ. پہ لوړ غږ لوست ماشوم/ماشومه لوستلو ته هڅوي

# یوځای متنونه ولټوئ

ستاسې ماشوم/ماشومه به د لوستلو اشتیاق ته وده ورکړي که تاسې د هغه
کتابونو په موندلو کې مرسته کوئ چې هغه پکې علاقه مندي لري۔
تاسې د خپل ماشوم/ماشومې سره له کتابتون
یا aakb.dk څخه کتابونه پور اخیستلو کې مرسته کولی شئ۔ تاسې د
eReolenGo.dk څخه برېښنايي او آډیو کتابونه هم پور اخیستلی شئ۔
په aakb.dk/tags/temalister-boern-unge تاسې د کتابونو لپاره نظرونه موندلی شئ۔

# د READ په اړه زيات ولولئ

تاسې د READ – د لوستلو لپاره همکارۍ په اړه په www.aarhus.dk/read لا زيات
لوستلی شئ۔ دلته به تاسې د READ – د لوستلو لپاره همکارۍ فلم، يو
کتابګوټی او په ډنمارکۍ او لوړ شمېر نورو ژبو ته ژباړول شوی يو لارښود ومومئ۔